د تنظيم شوي تفريحي فعاليتونو لپاره بلا عوض مرستې

د Nordre Follo د ښاروالۍ اداره غواړي چې نور ماشومان او ځوانان په با قاعده تنظيم شوي تفريحي فعاليتونو کې برخه واخلي. ددې په خاطر د ښاروالۍ اداري يوه داسې پروژه رامنځته کړې چې کلوپونه، ټولنې او د ښاروالۍ کارکوونکې کولای شي ورته درخواست وکړي.

تاسو د څه لپاره مرسته ترلاسه کولای شئ؟

تاسو د ثابت، او باقاعده تنظيم شوي فعاليتونو اړوند لګښتونو لپاره ملاتړ ترلاسه کولای شئ. د غړيتوب فيس، لايسنسونه، د ګډون / فعاليت فيس، او د يو فعاليت اړوند نور لګښتونه يې مثالونه دي. د ښاروالۍ اداره د انفرادي فعاليتونو لپاره او د جيم غړيتوب فيس لپاره مرسته نه کوي.

څوک کولای شي مرسته تر لاسه کړي؟

ماشومان او ځوانان چې د 6-18 کالونو ترمينځ عمرونه ولري او د Nordre Follo ښاروالۍ هستوګن وي او په منظم تفريحي فعاليت کې د ګډون لپاره مالي توان ونلري کولای شي مرسته ترلاسه کړي. مونږ هر يو درخواست په انفرادي توګه ارزوو او هغه پيسې چې درخواست ورته شوی په بشپړه توګه او يا جزئي ډول سره ورکوو.

څوک د (يو ماشوم يا ځوان په نمايندګۍ) سره درخواست ورکولای شي؟

کورنۍ او افراد خپله د يو بلا عوض مرستې لپاره درخواست نشي ورکولی; بلکه هغوي بايد د ښاروالۍ يو کارکوونکې يا هغه شخص / ارګان سره په تماس شي چې دا فعاليت وړاندې کوي. دا شخص به و ارزوي چې آيا دا ماشوم د يو بلاعوض مرستې مستحق دې او که نه.

ددې لپاره چې د يو فعاليت لپاره ملاتړ ترلاسه کړي، هغه نفر (افراد) چې ددې فعاليت لپاره مسئوليت لري بايد د غير انتفاعي موسساتو په راجستر کې ثبت شوې وي. مونږ د ښاروالۍ د فعاليتونو لپاره لکه د کلتوري ښوونځيو او د ځوانانو کلوپونو لپاره هم ملاتړ کوو.

په درخواست کې بايد د ماشوم / ځوان نوم، د هغوی د زېږون نېټه، او د هغوي د مور او پلار يا قانوني سرپرست لخوا د 15 څخه د ټيټ عمر ماشومانو رضايت شامل وی.

درخواست يا غوښتنليك

د فعاليت تنظيموونکې يا د ښاروالۍ يو کارکوونکې د غوښتنليك فورمه بشپړوي او غوښتنليك په الکترونيکي ډول د ښاروالۍ اداري ته وړاندې کوی. يو جلا درخواست يا غوښتنليک بايد د هر ماشوم لپاره ورکړل شي. په درخواستونو کې بايد د متعدد فعاليتونو يا سفرونو لپاره لګښتونه شامل نه وي. د درخواستونو لپاره کوم ضرب الاجل نشته.

د درخواست يا غوښتنليك فورمه

څوک درخواست يا غوښتنليکونه طی مراحل کوي؟

د تتصدی د عامې روغتيا، لوبې يا سپورت او د باندې فعاليتونه د بلا عوض مرستې د پروګرام د لارښود سره سم غوښتنليکونه ترلاسه او ارزوي. مونږ ټول شخصي معلومات د اجرا وړ لارښوونو سره سم طی مراحل کوو.

د درخواست يا غوښتنليك ځواب

په عادي ډول سره به درخواست ورکوونکي په ظرف د لسو ورځو کې يو ځواب ترلاسه کړي. د ښاروالۍ اداره به مرسته شوی مبلغ شخص يا هغه ارګان ته چې فعاليت وړاندې کوي ورکړي.

که چيرې تاسو پوښتنې لرئ يا درخواست ورکولو کې مرستې ته اړتيا لرئ

د عامې روغتيا همغږۍ کوونکی Heidi Berentsen سره اړيکه ونيسئ
ټيليفون: (+47) 90 10 27 08